لیکوال: اټک یوسفزی / کامه نیټه ۲۹-۱۱-۲۰۱۰

# دا دېک او همدا تېپر

وه مو لیدل چي په چین کي د اسیایي لوبو په پیل کي د ګران افغانستان لوبغاړو ته دملي سندرې (!) پر ځای یوه بله ببولاله وغږول شوه ؟!

ما ژر ژر هغه د چا خبره زر ځلې شکر پدې وویست چي د لوبغاړو په لاسونو او منګلو کي خو لا د ګران هېواد له پرتمه او غېزه ډک، تور، سور او زرغون بېرغ او جنډه هسکه او رپانده وه٠

د خپل بیرغ په لیدو مي سترګي نابېره د خوښئ له اوښکو ډکي شوې، ژر مي شا او خوا وکتل او اوښکي مي پاکي کړې، بیا مي بې شماره شکرونه پدې هم وویست چي څه شکر چي زموږ جنډه خو لا ژوندئ او رپانده ده، الله (ج) دي یي له کورنیو غلیمانو په امن کي وساتي٠

د ه یوه افغان په توګه د ګران افغانستان د غلیمانو پدې ناوړه چلند او سپین سترګی ډېر درد او رخه راغله، خو په اصطلاح د ښاغلي حامد جان کرزي په ملي سرود مي هیڅ چورت ځکه خراب نه و، چي وایي همدا دېک او همدا تېپر، ښاغلي حامد جان خود خپل دې لوی، یوو موټي او درانه قوم سره هغه وخت د دښمنی اعلان وکړ چي د اروابناد شهيد سردار داود خان د وخت پوخ، کره او ټولو ته د منل شوي واقعي ملي سرود پر ځای یې د ملي اچار د جوړېدو فرمان صادر کړ٠

په نړی کي به څوک داسي یو هېواد هم پیدا نه کړي چي په هغه کي دې ټول د یوې ژبې، یو قوم او د یو رنګ او روغن وګړي مېشت وي٠ خو د ملي وحدت او پیوستون په خاطر بیا ټول، تورین او سپین مخي، لړکي او ډېرکي د ځان پر ځای پر خپل اولس او د خپل کور پر ځای پر خپل ټول هېواد ویاړي٠

نو ښاغلي حامد جان چي پخپل ملي سرود(!) کي د افغان د ویاړلي نوم پر ځای د پښتون، تاجک، هزاره، ایماق، هندو، ګوجر، سقاو، ازبک، اوباش، دره یي نوري او ۰۰۰۰۰۰ نومونه ځایوال او پدې ډول یي د ملي سرود پر ځای د ملي اچار د جوړېدو شوق کولو نو اوس دی د دې څو کلن ښه اخته شوي او خوړین شوي اچاره مزه وڅکي٠ که په کور او دفتر کي یي په خوند نه مړېږي نو کولای شي چي په Mp۳ کي یي هم واچوې او په سفرونو کي یي هم خوند وڅکي!

او موږ به هغي ورځي ته شېبې شمارو چي د نورو زخمونو تر څنګ مو ملي سرود هم ورغیږي٠

(څو چي دا ځمکه اسمان وي

څو چي دا جهان ودان وي

څو چي ژوند پدې جهان وي

څو چي پاتي یو افغان وي

تل به دا افغانستان)

اټک یوسفزی / کامه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ